# زېرى

علمي- څېړنيزه او ادبي پنځلس ورځنۍ جريده

د تأسيس کال ۱۳۱٦ هجري شمسي

پنجشنبه، (۲۳-۲۴مه) ګڼه، دربيمه دوره، پرله‌پسې (۳٦۷-۳٦۸مه) ګڼه، د ۱۳۹۹ل.کال د حوت(کب) د مياشتې ۲۸مه، د ۱۴۴۲هـ.ق. کال، د شعبان د مياشتې ۴مه او د ۲۰۲۱ز.کال، د مارچ ۱۸مه.


**د اداري يادښت:** د ۱۳۹۹ لمريز کال د حوت مياشتې (۲۳-۲۴مه) ګڼه چې په ۱۳۹۹ لمريز کال کې يې د چاپ او خپراوي تمه کېده، د چاپ د ځنډ او وروسته په هېواد کې د سياسي تحولاتو له امله ځنډېدلې وه، د اسلامي امارت له راتګ سره دا دی تر بيا کتنې وروسته چاپ او خپرېږي.

## د مورنيو ژبو نړيواله ورځ او د نړۍ د ژبو اوسنی حال




څېړنوال رفيع الله نيازی


له دوه زرم ميلادي کال راهيسې د فبرورۍ ۲۱مه د نړۍ په بېلابېلو هېوادونو کې په ډېره لېوالتيا د مورنيو ژبو نړيواله ورځ نمانځل کېږي؛ د ژبپوهنې، ټولنپوهنې، تاريخ او ادبياتو پوهان په دغه ورځ په نړۍ کې د وګړو د مورنيو ژبو د بقا او پرمختګ لپاره په کنفرانسونو، سيمينارونو، ګردي مېزونو او نورو ټولنيزو غونډو کې ډول ډول بحثونه کوي، چې له غوښتنو، سپارښتنو او تنقيدونو سره مله وي. موږ په دې ليکنه کې پر دې موضوع رڼا اچوو، چې ولې د مورنيو ژبو نړيواله ورځ نمانځل کېږي، د نړۍ او افغانستان ژبې اوس په کوم حالت کې دي، په مذهبي او ټولنيز لحاظ ژبې څه اهميت لري او د ژبو د ژوندي پاتې کېدو لپاره څه کول پکار دي؟

**ولې د مورنيو ژبو نړيواله ورځ نمانځل کېږي؟**

په ۱۹۴۷ ميلادي کال کې چې د پخواني برصغير يا هندوستان له تجزيې د پاکستان په نامه يو نوی هېواد جوړ شو، نو اوسنی بنګله دېش، سندهـ، پنجاب، بلوچستان او د افغانستان د پښتونخوا سيمې هم پکې انګرېزانو په زوره شاملې کړې. په ۱۹۴۸م کال کې اردو د پاکستان ملي ژبه اعلان شوه او په دې اړه د ۱۹۴۸م کال د مارچ پر ۲۱مه نېټه محمد علي جناح په ډاکه کې ويلي وو، چې: ((زه په ښکاره الفاظو وايم، چې يوازې اردو به د پاکستان رسمي ژبه وي، که په دې اړه کوم شخص تاسو په ناسمه لار د بوولو هڅه کوي، هغه د پاکستان پوخ دوښمن دی. له يوې مشترکې ژبې پرته نه قوم په پوره ډول متحد کېدای شي او نه کوم کار کولای شي))

له دې امله چې اردو هغه مهال د ټول پاکستان د درې سلنو په شاوخوا کې وګړو ژبه وه او له بل لوري بنګالي د ټول بنګله دېش د وګړو مورنۍ ژبه وه، نو بنګاليانو غوښتنه وکړه، چې په بنګال کې دې د بنګاليانو مورنۍ ژبه بنګالي د دوی د تعليم، سياسي او ټولنيزو چارو ژبه شي، خو د هغه مهال د پاکستان واکمنو، يعنې پوځيانو د بنګاليانو دې غوښتنې ته اهميت ورنه کړ. بنګاليانو د خپلې ژبې او خپل هويت لپاره مبارزه وکړه، د دغو مبارزو په لړ کې په ۱۹۵۲م کال کې د فبرورۍ پر ۲۱ مه نېټه د ډاکې پوهنتون محصلينو د خپلې ژبې د سياسي حيثيت او د خپل هويت لپاره لاريون وکړ، پاکستاني پوځيانو پر بنګالي محصلينو د ټوپکو ډزې وکړې او څه محصلين يې ووژل. که څه هم په ۱۹۵٦م کال بنګالي هم په پاکستان کې رسمي ژبه شوه، خو د همدغې ژبنۍ تربګنۍ او ځينو نورو سياسي لاملونو له امله بنګله دېش د ډېرو وينو په قربانۍ په ۱۹۷۱م کال کې د پاکستان له پوخ څخه ازادي واخيسته او د نړۍ پر نقشه د يوه خپلواک هېواد په توګه راڅرګند شو.

د ۱۹۹۸م کال د جنورۍ پر ۹ مه نېټه يوه کاناډا مېشتي بنګالي رفيق الاسلام د ملګرو ملتونو له سرمنشي کوفي عنان څخه په يوه ليک کې دا غوښتنه کړې وه، چې د مورنۍ ژبې د درناوي لپاره دې ۲۱ د فبرورۍ (هغه ورځ چې د مورنۍ ژبې د حيثيت د اعادې لپاره د بنګله دېش په ډاکه کې څه محصلين ووژل شول) په نړۍ کې د مورنيو ژبو نړيواله ورځ وټاکل شي. د ۱۹۹۹م کال د نومبر پر ۱۷ مه نېټه چې بنګله دېش او ملاتړو يې دا موضوع مطرح کړه، نو ۲۸ هېوادونو يې ملاتړ وکړ او د ملګرو ملتونو يونيسکو سازمان د فبرورۍ ۲۱ د مورنيو ژبو نړيواله ورځ ونوموله او د ۲۰۰۰ ميلادي کال د فبرورۍ پر ۲۱ مه نېټه د لومړي ځل لپاره په رسمي ډول دا ورځ ونمانځل شوه، چې له همدغې نېټې راهيسې هر کال نږدې په ټوله نړۍ کې دا ورځ په بېلابېلو ډولونو نمانځل کېږي.

**د نړۍ ژبې اوس په کوم حالت کې دي؟**

د انساني ژوند له پيله انسانانو په بېلا بېلو ژبو خبرې کړې؛ يو مهال يې ښايي يوه ژبه درلوده، بيا ترې د ۳مخ

## په ادبي تاريخ کې د تدريجي تحول د نظريې مفهوم (دربيمه برخه)




ژباړن: سيدنظيم سيدي


په روسيه کې بيا دغه کيسه بل ډول ده. هلته د سپنسر د تحول نظريه د الکزاندر ويسيلوفسکي په وسيله ((د نړۍ د شعر تاريخ)) په ليکلو کې په ټول قوت سره تطبيق شوه. ويسيلوفسکي په ۱۸٦۲ کال کې په برلين کې د ستينتا شاګرد و او د تحول نظريه يې د انګليسي بشر پوهانو په ګډون له نورو منابعو هم اقتباس کړې وه. نوموړي هغه پراخ او هر اړخيز معلومات چې د نورو ملتونو د ژبو او ادب په اړه يې درلودل، په لوېديځ کې بې سارې و او نوموړي د ادبي فنونو، ادبي موضوعاتو او د ادبي انواعوو تاريخ له ګرني ادب څخه نيولې د منځنۍ پېړۍ تر ادبياتو پورې يې تأليف نه کړل، خو له دې ټولو خبرو سره- سره بيا هم د ويسيلوفسکي نظري فرضيې ډېرې زياتې سختې دي. د نوموړي د ادبي اثارو منځپانګه او شکليات په ټوله معنا جلا تحليل شوي دي، د شعر ژبه د يو داسې څه په توګه چې له ازله پرې لوړول شوي وي ګڼل شوې ده او د نوموړي په باور يوازې د ټولنيزو او فکري تحولاتو تر اغېزې لاندې تغيير خوري. ويسيلوفسکي د انواع د امتزاج وخت په اصلي ګڼي شعر کې ښيي او تل د ټولو اشياوو د روح لرلو بقايا، اساطير، د ستاينو مراسم او دودونه د مرسومو شعرونو په ژبه کې لټوي. دی دا هر څه داسې ګڼي چې دا ټول شعري ابداعات په قبل التاريخ زمانو کې، هغه مهال چې ادمزادو ژبه زده کړه پنځېدلي دي. نو تر هغې وروسته د شعر په ژبه کې تعديل راغلی او شعر د دوی له عصر او غوښتنو سره سم د دوی په ژبه د دوی منځپانګه بيان کړې ده.

له يوې خوا ويسيلوفسکي د شعر تاريخ له تيارو زمانو څخه ګڼي او په اړه يې د (ژنستيک) پر اساس څېړنې کوي او له بلې خوا د (پرتليزو ادبياتو)، کېدواليو، د فنونو پر اغېزو او ادبي محرکاتو پر څېړنو بوخت دی. د ويسيلوفسکي د کار نيمګړتيا د هغه وخت له امله ده چې دی په کې ژوند کوي، ځکه نوموړی له خالص ساينس څخه دومره اغېزمن شوی چې په ټوله معنا يې هنر هېر کړی، يو هنري اثر ته د يو رېبونکي پوه په سترګه ګوري او پر همدې اساس د هغې منځپانګه پر محرکاتو، طرحو، استعارو او وزن باندې وېشي.

ويسيلوفسکي زيات علمي شهرت او نوم وګاټه، نو پر همدې اساس يې وغوښتل چې د ادب د تدريجي تحول نظريه د شوروي د شکل پالو د نظريو پر پليونو ومني. شکل پالو د ده ځينې نظريات له هغو څخه د ادبي انواعو د مورفولوژي بنې ته پاملرنه، ومنل؛ خو د نوموړي مفکوره يې د ادب د تدريجي تحول په اړه رد کړه، دا ځکه چې په يوه انقلابي فضا کې رامنځته شوې وه او تر دې هم مخته لاړ حتی هنرونه يې هم په شدت سره نفي کړل. د دوی پلويان هم راتلونکي پال شاعران وو. ۲مخ

## د ژبې د ژوند چاپېريال (۳)




ژباړه او لنډيز: څېړنپوه مولاجان تڼيوال


کله چې د تعقل[1] توان اعلان شو او دا امکانات په ګوته شول چې ټولنيزې پديدې د تعقل د اصولو له مخې بدلون کوي د همدې قضاوت پر بنسټ تر هر څه د مخه په اووه لسمه او اتلسمه پېړۍ کې د ژبې په باره کې نظريات را څرګند شول. د اووه لسمې پېړۍ په اوږدو کې په فرانسه کې د ژبې د نګه توب داسې ميلان[2] پيدا شو چې د يوې ژبې څخه يې بلې ژبې ته د وييونو انتقال او کارونه، ونه منله. مال هېربه[3] د ويي‌پانګې نګه توب غوښت، پورونه (پور اخيستل) او مشتق شوي وييونه يې چې د ژبې د اصولو سره په مطابقت کې رامنځته شوي وو، و نه منل نوموړي د ادبياتو[4] په ژبه کې هيڅ يوې نومونې ته هم اجازه نه ورکوله حتی يو وار يې هم يوه ويي Ideal ډېر اعلی ته چې د (پوهانو) د ويي په سترګه ورته کتل کېږي او ولسي څرګندونو ته د کارونې اجازه ور نه کړه، نوموړي په ژبه کې د منطق[5] د جدي کارونې هڅه کوله او په همدې علت يې دا تقاضا لرله چې د غونډلې په جوړښت کې دې هندسي سټراکچر په پام کې ونيول شي.

په اتلسمه پېړۍ کې په انګلستان کې ډول ډول پلټنې وشوې تر څو په دې وسيلې سره ژبه ثبت او وټاکي. يو شمېر ليکوالو دا غوښتنه درلوده چې د ښار لپاره داسې اشخاص بايد په دنده وګومارل شي چې (ژبې ته) د پرديو وييونو د ورننوتو مخنيوی وکړي.

جانتن سويفټ[6] د انګرېزي ژبې د طبعي هيلو پرخلاف چې وييونه لنډ کړي ودرېده او پر يوه لړۍ هغو وييونو او څرګندونو باندې يې بد وويل چې تر اوسه (خپل وخت ته نغوته کوي) پورې په جريان کې پاتې دي. دلته دا تمه کېده تر څو په حقيقي ډول د ژبې پښوييز جوړښت ته بدلون ورکړي او هغه نومونه او فعلونه چې د اصولو سره سم نه دي، تر قاعدو لاندې يې راولي او د نومځرو سنتېتيکي لوړوالی د اناليتيکي فورمونو په واسطه په بشپړ ډول عوض کړي. ۳مخ

څېړندويه لېمه خيال

## مورنۍ ژبه او په مورنۍ ژبې د زده کړو ارزښت

مخکې تر دې چې په مورنۍ ژبې او پر هغې د زده‌کړو پر ارزښت څه ووايم، لومړی غواړم دا کلمه په قاموسونو کې ولټوم: په پښتو- پښتو تشريحې قاموس کې په دې اړه داسې ويل شوي ((مورنۍ ژبه هغه ژبې ته وايي چې مور پرې خبرې کوي)).(۱)

او په يوه آلماني سيند کې داسې ليکل شوي دي: ((مورنۍ ژبه هغې ژبې ته وايي چې يو انسان يې د يوه ماشوم په صفت زده کوي او بيا يې لومړنۍ کاروي)).(۲)

په همدې ډول په يوه بل سيند کې د مورنۍ ژبې په باره کې داسې ويل شوي دي: ((مورنۍ ژبه هغې ژبې ته وايي چې يو چا د ماشومتوب څخه زده کړې وي)).(۳)

مورنۍ ژبې ته په انګليسي ژبه کې First language ويل کېږي. په عمومي توګه ويلی شو چې مورنۍ ژبه د شخص ژبه ده يا هغه ژبه چې لومړی ځل زده کېږي، خو په څو ژبنيو ټولنو کې کېدای شي ماشوم په تدريجي ډول ۲مخ

## د مقالې ليکلو لارې چارې

شپږمه برخه




ليکواله: مېرمن رياحي

ژباړه: څېړنيار فضل الرحمن عليزی


### پنځم ګام

### د مقالې د لنډيز (Abstract) ليکلو څرنګوالی

د لنډيز يا (Abstract)منځپانګه لنډه، خو د ټولې مقالې تشريح کوونکې برخه ده؛ لوستونکی د لنډيز په لوستلو سره په دې پوهېږي چې په مقاله کې کوم مطالب راغلي دي. د مقالې د لنډيز په اړه داسې هم ويلی شو چې لوستونکی د لنډيز په لوستلو سره د مقالې د لوستلو او نه لوستلو پرېکړه کوي. ډېر څېړونکي د مقالې لنډيز ته په کمه سترګه ګوري او دې برخې ته له پاملرنې پرته هغه په ډېره ساده او سر سري ډول ليکي، مګر لنډيز ته بايد ډېره پاملرنه وشي، ځکه د مقالې لنډيز د مقالې يو له مهمو او ارزښتمنو برخو څخه ګڼل کېږي. په ډېرو اطلاعاتي بانکونو؛ لکه ګوګل، يواځې د مقالې لنډيز ښيي؛ نو پر دې اساس د لنډيز ارزښت او اهميت ته په کتلو سره بايد د مقالې د لنډيز د ليکلو په برخه کې لاندې برخې په پام کې ونيول شي:

**د يوې مقالې د لنډيز (Abstract) ليکلو اصول**

۱. لنډير د مقالې په لومړۍ برخه کې راځي، خو تر ټولو وروسته ليکل کېږي.

۲. په لنډيز کې د مستقيم نقل قول څخه د ګټې اخيستنې پر ځای، بايد د خپل ځان له تعبير او تفسير څخه ګټه واخيستل شي.

۳. لنډيز بايد په داسې ډول وليکل شي چې لوستونکی يې په لوستلو سره پوه شي، چې د ده غوښتل شوې موضوع په متن کې تشريح شوې ده، يا هم کومه موضوع چې دی يې غواړي دلته نه ده بيان شوې، يعنې لنډيز بايد د مقالې د متن هينداره وي.

۴. په نظري او مروري مقالو کې لنډيز بايد د ۷۵ او ۱۰۰ کلمو ترمنځ وي، خو په څېړنيزو مقالو له ۱۲۰ تر ۱۵۰ کلمو وي، البته د مقالې د لنډيز په ليکلو کې هره مجله خپل اصول لري چې بايد په پام کې ونيول شي.

۵. د لنډيز په ليکلو کې سرچينه(مأخذ) نه ليکل کېږي.

٦. لنډيزونو، نومونو او د مقالې ځانګړو او تخصصي کلمو ته بايد په لنډيز کې توضيح ورکړل شي.

۷. په لنډيز کې د مقالې د متن له کاپي کولو څخه بايد ډډه وشي.

**د مقالې د لنډيز (Abstract) اصلي جوړښت**

۱. **انګېزه او د مسئلې بيان:** د مسئلې بيان په دلايلو، اسنادونو او د متخصصانو د نظرياتو پر استناد د څېړنې د مسئلې شتون او د څېړنې پايلې مطرح کوي.

۲. **موخه (په يوه جمله کې):** له انګېزې څخه منظور دې پوښتنې ته ځواب ويل دي، چې موږ ولې د دې مسئلې څېړلو ته ارزښت ورکوو؟ او ترڅنګ يې د څېړنې د سرته رسولو هدف هم په ګوته کوي، چې دا څېړنه د کوم هدف له مخې تر سره کېږي؟

۳. **ميتودونه، طريقې او لارې چارې:** په دې برخه کې په ټولنې پورې اړوندې خبرې، بېلګې، د کار او څېړنې د وسايلو يادونه کېږي.

۵. **پايله او لاسته را وړنې:** په دې برخه کې دا ښودل کېږي چې د يوه ميتود په ترڅ کې له ټاکلي عنوان څخه کومه پايله او لاسته راوړونه تر لاسه او بيان شوې ده، څه رامنځته شوي دي؟

٦. **موندنې او مفاهيم( په يوه جمله کې):** په پای کې هغې مسئلې ته په پام چې مخکې بيان شوه، بايد ۳مخ

## په ادبي تاريخ کې د تدريجي...

د مارکسيستي ادب په معاصرې کره کتنې کې هنر په ټوله معنا خپله خپلواکي له لاسه ورکړې وه او د ټولنيزو او اقتصادي بدلونونو او غبرگونونو په سترگه ورته کتل کېدل، خو دا نظرېې د شکل پالو نظريو پلويانو نه شواى منلى، خو د هيگل نظريه چې د ديالکتيکي اساس او بارز اصل پر بنسټ چې هغه له زاړه څخه نوي ته او پر عکس يې وه، منلې وه. دا نظريه پر ادبياتو په دې ډول تطبيقېدله، چې ادبي مرسومات به په جبري توگه زړېږي او وروسته به نوي ادبي مرسومات له نوو ادبي روشونو نه په گټنې سره چې هغه به د زاړه ضد وي رامنځته کېږي، نو په دې توگه نوښت د ادبي ارزښت له عواملو څخه يو لامل وگڼل شو.

د شکل پالنې نظريه د رومان جاکوب په وسيله چکسلواکيا ته انتقال شوه او په شعوري توگه د ادب تدريجي تحول پر نظريې باندې د ژان موکروفسکي په وسيله تطبيق شوه، مگر موکروفسکي دا نظريه له نورو موضوعاتو؛ لکه ښکلا پوهنې او کره کتنې سره واغېرله، د نومورې موخه دا وه چې په دې وسيله په يو ادبي اثر کې د تحول تحرک ارزيابي کړي، نوموړی په دې عقيده و، يو هنري اثر هغه وخت مثبت ارزښت پيدا کولای شي، چې د مخکې دورې د هنر جوړښت ته تغيير ورکړي او هغه وخت يو منفي ارزښت په توگه څرگندېږي چې د مخکې دورې د هنر جوړښت پرته له تغيير نه ومني. موکروفسکي له ادبي تاريخ څخه د ادبي کره کتنې د جلا کولو لپاره استدلال کوي او په دې معتقد دی چې د ښکلا پوهانو خالص ارزښت موندل تر ادبي تاريخه په ادبي کره کتنې پورې ډېره اړه لري.

نوموړی فکر کوي چې پر يو ادبي اثر باندې نقد د هغه د پېژندل شوي جوړښت په توگه د يو ثابت او متمرکز ترکيب په توگه اړين دی. په داسې حال کې چې تاريخ بايد د شعر جوړښت د دايمي حرکت په حالت کې د هغه د عناصرو د دايمي بدلون په منلو سره او د هغو يو پر بل متقابلې اغېزې مطالعه کړي. په ادبي تاريخ کې يوازې يو ټکی د مطالعې وړ دی، چې هغه د تازه والي درجه ده؛ خو موکروفسکي (د نورو شکل پالو په څېر) نه شي کولای چې د تغيير د لوري اساسي پوښتنې ته ځواب ووايي. که چېرې ادلون بدلون يوازې د عمل او عکس العمل په معنا وي، نو پرته له شکه دا به په يوه محور باندې په تکراري ډول له چورلېدو نه پرته نور څه نه وي؛ خو تحول تل پر مخالف جهت (ضد لوري) کې واقع کېږي، او په شعر کې ضد څه شی دی؟ ايا فشاري وزن د څپېز وزن ضد دی؟ ايا د ضد اصلي معنا مجازي معنا ده؟

موکروفسکي چې کوم يوازينی معيار طرحه کړی دی د هغې پر اساس نه شو کولای د ځينو ځيزونو د پيل په اړه څه ووايو، پرته له دې چې دا ووايو چې د موکروفسکي نظر د (نوي پالنې، نوښت غوښتنې) پر بنا ولاړ ده. دی غواړي زباد کاندي چې د نوو پالونکو آثارو ارزښت تر پخوانيو پالونکو زيات دی، يعنې غواړي ووايي چې مارلو تر شکسپير، يات تر سپنسر او کلاپستاک تر گويته غوره دی. دی له موږ غواړي دا ورسره ومنو چې نوي تر پخوانيو هغو غوره او اړين دي. د موکروفسکي له نظرېې سره سم بايد ووايو د تاريخ موضوع او ماده هرو مرو بايد له ارزښت سره په ټراو غوره شي، دا چې جوړښتونه هغه وخت ارزښت لرونکی دي، کله چې جوړښتونه پرمختيا کوي، نو ارزښتونه هم ورسره پرمختيا وکړي. ادبي تاريخ لکه څنگه چې موکروفسکي يې غواړي له ادبي کره کتنې څخه جلا نه دی او دا هم د حيرانتيا ځای نه دی چې موکروفسکي په وروستيو کلونو کې د شکل پالنې طرحه پرېښې ده او د مارکسيزم نظريې ته يې مخه کړې ده. ډېر جالبه ده چې نه موکروفسکي د يوري تينيانوف او رومان جاکوبسن نويو نظرياتو ته چې په يوې مقالې (۱۹۲۷ د ادب او ژبې د مطالعې مسايل) کې بيان کړي او په هغې کې يې د تحول دايمي مسايل له نوي تجديد سره طرحه کړي پاملرنه کړې او نه هم له شکل پالو څخه کوم يوه. د دې مقالې ځينې مهمې برخې دا دي:

"د نظام مفکوره په ټوله معنا په انحرافي وخت کې ثابته نه ده، هر ثابت نظام په زمان کې د داسې تېر او راتلونکي لرونکی دی چې د هماغه نظام نه انعکاس کېدونکي برخې دي، د لرغونو لغاتو او عبارتونو استعمال په سبک پورې اړه لري. ښايي ادبي او اسانه زمينه د شړېدلې او لرغونې سبک په توگه محسوس شي او يا هم له بلې خوا ممکنه ده نوې لېوالتياوې په ژبه او ادب کې د تجديد په توگه تلقي شي.

د ادب په ژبه کې د ثابت نظام مفکوره د تاريخي دورې له مفکورې سره کوم تداخل نه لري، ځکه يوازې له هغو ادبي اثارو څخه جوړ شوي نه دي چې په هماغه دوره يا هماغې دورې ته نږدې دوره کې رامنځته شوي وي؛ بلکې داسې آثار هم په کې شامل دي چې له تاريخي او لرغونو دورو څخه په کې راوړل شوي دي، نو پر دې اساس په زمان کې د ثابتو اثارو فهرست کول له امتياز پرته بسنده نه دي. د اثارو د مراتبو تسلسل په يوې مشخصې دورې کې ځانگړی قاطعيت لري."

که څه هم دا نظريه تر يوه حده لنډه ده، خو مهمه ده. بيا هم په دې عبارت کې د ادب د تدريجي تحول پر نظريې ښکاره نيوکه تر سترگو کېږي. يوه سمه د حل لاره ورانديز کوي او هغه په تېر کې له غوراوي څخه د کره کتونکي آزادي (او همدارنگه له شاعر څخه) او د کره کتونکي اړتيا چې (ښايي شاعر هم وي) د څو اړخيزې پرېکړې په اړه ده.

د ادبياتو او د انساني مغز له مقارنې(نږدېوالي) چاره نشته، د ادب د تدريجي تحول د نظرېې د پلويانو د عقيدې په خلاف، زه يوازې په حال زمانه کې چې د تېر پر وړاندې سم له وراه غبرگون ښکاره کوم، لپاره ژوند نه کوم، بلکې په ورته وخت کې زه په درې زمانو کې ژوند کوم: په تېر وخت کې د حافظې په زور، په اوس وخت کې او په راتلونکي کې د وړاندوينې پر اساس. پلانونه او هيلې ممکنې دي چې په دې هرې يوې کې ډېر لرې تېر(ماضي) يا د انسانيت خورا ډېر لرې- لرې تېر ته ورسېږو. د انساني ذهن په پرمختيا کې بالنسبه دوامداروالی موجود دی. ذهن يو جوړښت لري چې په لمحه کې واقع دی، دا خبره چې هنرمند هرو مرو د راتلونکې يوازينۍ موخې پر لور پرمختيا کوي سمه نه ده، نوموړی کولای شي هغه شی چې له شل، دېرشو او يا څلوېښتو کالو راهيسې يې درک کوي د هغه خوا ته وگرځي او همدارنگه کولای شي چې په ټوله معنا يوې نوې لارې ته ور سم شي.

تېر(ماضي) ته د نوموړي رسېدل د بېلگې يا انگېزو لپاره يا په هنر کې دننه او دباندې؛ يا د ژوند په يو بل هنر کې؛ يا په خپل زړه يا انتخابي ډول د پرېکړې په فکر کې د هغو ارزښتونو چې د هغه د شخصي ارزښتونو سلسله جوړوي، تشکيلېږي او د مراتبو هغه سلسله چې د نوموړي په هنر کې تطبيق شوې ده، هغه به راڅرگنده او منعکس شي او کله ناکله د مراتبو د سلسلې ارزښتونه يوه ټاکلې دوره اغېزمنوي، چې د ناقد له خوا بايد درک او تفسير شي.

په ادبياتو کې د ډاروين او سپنسر د تدريجي تحول د نظرېې تطبيق ځکه سم نه دی چې په ادبياتو کې داسې ثابت ډولونه موجود نه دي چې له بيولوژيکي جنسونو سره د اټکل وړ وي او د تحول اصلي مواد تشکيل(جوړ) کړي. په ادبياتو کې د يو ځيز وده او زوال، د يو ډول تبديلېدل په بل ډول او د انواعو ترمنځ واقعي تنازع د بقا په موخه نه وي. د هيگل د تحول نظرېې د پېژندنې د درجه بندۍ اصل د نفي کولو له پلوه په هنر کې د تضاد او خوځښت نقش، له ټولنې سره د هنر د اړيکې ملاحظه د ډيالکتيکي متقابلو اغېزو له پلوه سم دی، خو د انعطاف منلو د حتميت او درې پړاويزې طرحې د اصالت له مخې سم نه دی، ځکه دوی غواړي چې ارزښت د بې ارزښتۍ له درکه درک کړي.

هغه څه چې د اړتيا وړ دي (او هغه خبره چې له تينيانوف او جاکوب سن څخه مو نقل کړې ده، چې ويلي يې دي) د زمان اوسنی تصور داسې دی چې د تقويم د متريک وخت او فزيک علم پر اساس بنا نه وي، بلکې د اتفاقي تسلسل پر متقابل نفوذ (ناجبري) تجربې او حافظې باندې تکيه ولري. يو هنري اثر يوازې د يوې ډلې يو غړي يا د يو زنځير کومه کړۍ نه ده، شونې ده چې د تېر ځينې شيان ورپورې تړلي وي. يوازې جوړښت نه دی، چې د شکل پالو د عقايدو له مخې په توصيفي توگه تحليل شي، د ارزښتونو يوه واحد ټولگه ده، چې پر جوړښت پورې ضميمه شوې نه ده، بلکې د هغې څرنگوالی يې جوړ کړی دی. ټولې هغه هڅې چې له ادبياتو څخه د ارزښت د اېستلو په اړه ترسره شوې دي له ناکامۍ سره مخامخ شوي او په گانده کې به هم ناکامې شي، ځکه دا څرگنده خبره ده چې ارزښت ورو ورو د ادبياتو بنسټ جوړوي.

په پای کې داسې ادبي علم، چې هر نوی شی غوره دی، که د ادب پاتې مطالعه له نقد(قضاوت او ارزښتموندنې) نه بېله وگڼي، ناشوې ده. تين چې په پيل کې له کره کتنې څخه د ارزښت په لرې کولو پسې گرځېده، په پای کې په خپلې تېروتنې پوه شو او د هنر په فلسفه کې يې له خپل باور څخه لاس واخيست او د هنر د دوگونې طرحې، ټولنيزې او ښکلاپوهنې پسې يې متې راونغاړلې. مولتون هم د استقرايي کره کتنې په طرحې کې ناکام شو، همدارنگه اميل هنې کوين د علمي کره کتنې په پيروۍ چې هغه د ټولنپوهنې له پلوه د ليکوال په رواني مطالعې او د لوستونکو په تحليل پورې اړه لري، کې هم بريالی نه شو، ريچارد چې زموږ د اعصابو د پياوړتيا لپاره د شربت په توگه د شعر خلاصه کېدلو کومې هلې ځلې کولې هغو هلو ځلو هم چنداني ځای ونه نيو، ځکه نوموړي ونه کولای شول چې د شعر په اړه زموږ د ذهن غبرگونونه په ثابته او مشخصه توگه تشخيص او تشريح کړي او دا روښانه کړي چې د ذهن دا مرموز حالت په کوم ټاکلي اغېز پورې وتړي. همدارنگه شکل پال هم بريالي نه شول چې د ارزښتونو پای په يو نوښت لرونکي ارزښت خلاصه کړي.

په هرصورت، له علمي انتقاد څخه انکار په هيڅ صورت کې د خالصې بې تفاوتۍ او د خپل سرې رايې پايله نه ده. ادبي څېړنې بايد د منظمې پوهې ټولگه وي او جوړښتونه، معيارونه او هغه دندې چې د ارزښت وړ يا پخله ارزښتمنې وي وڅېړي. کره کتنه په هېڅ صورت له ادبي تاريخه نه جلا کېږي، په کار ده چې د ادبي تاريخ مسئله له سره وڅېړل شي او په دې بحث کې داخله شي او د ارزښتمنېدلو اساسي پوښتنه له سره وپوښتل شي او د دې خبرې سپيناوی وشي چې وخت يوازې د پېښو پرله‌پسې‌والی نه دی او ارزښت هم يوازې نوښت يا د نويو مسايلو د راوړلو ټولگه نه ده. دا ډېره زياته پېچلې مسئله ده، ځکه په هره شېبه کې کېدای شي ټوله تېره زمانه سره واغېرل شي او ټول ارزښتونه مفاهيم شي، نو په کار ده چې له اسانو حل‌لارو څخه ډډه وکړو او واقعيت سره که هر څومره ډېرې ستونزې او رنگارنگۍ ولري مخامخ يې کړو.

پای

## مورنۍ ژبه او په مورنۍ ژبې...

سره د مورنۍ ژبې د اساسي کلمو له استعمال څخه د بلې ژبې د کلمو استعمال ته لېوالتيا پيدا کړي. د مثال په توگه د ښوونځي او وړکتون د ژبې د نفوذ له امله، په دې صورت کې ښايي اوله ژبه هغې ژبې ته وويل شي چې ماشوم يې په ويلو او خبرو کې د زياتې ارامۍ احساس کاندي. د اولې ژبې اصطلاح اکثرا له بومي ژبېNative language سره مترادفه کارول کېږي.[۴]

دا چې ولې يوې ژبې ته مورنۍ ژبه وايي نورالبصر امن يې په اړه داسې ليکلي دي: ((ماشوم ته د ژبې د ښودلو مهمه وظيفه د مور په حق کې ورسېده، ماشوم د مور په غېږه کې د هغې د خولې نه خبرې زده کوي، دې د پاره هغې ته مورنۍ ژبه ويلی شي.))[۵]

په ژبو کې مثبت او منفي تحولات د وخت سره تړلي دي او د وخت لړۍ او زماني مرحلې هغه څه دي چې ټولنيز او ژبني تحولات په کې واقع کېږي. ځکه نو پوهان ژبه يوه تاريخي کټگوري بولي.

په ژبه کې د لهجو ډلبندي بايد داسې وي، چې کومې ژبې چې سره ډله ډله شوې وي، بايد له يوې ژبې څخه زېږېدلې وي او په خپلو کې سره ژبنۍ ځانگړنې او نږدېوالی ولري. که دا ډول نږدېوالی و نه لري بيا خو به له ټاکلې ډلې ووځي. ژبپوهانو د هغې محاسبې پر بنسټ چې په ۱۹۶۴م کال يې کړې ده، ويلي دي: د نړۍ په ژبو کې داسې ژبې هم شته چې تر ۵۰۰۰ زيات انسانان يې کاروي. ژبپوهان باوري دي چې دې ټولو اوسنيو ډول ډول او ژونديو ژبو له څو ټاکلو مشخصو او د گوتو په شمېر ژبو څخه چې مورنۍ گڼل کېږي، په خپل ځانگړي ډول سره تکامل او انشعاب کړی دی. ځينو ژبپوهانو ژبې د هغوی د صرفي او نحوي جوړښتونو له مخې ډلبندي کړې دي. له دې ميتود سره سمه ډلبندي چې اصطلاحاً نوعي يا جوړښتي ورته ويل کېږي په درېوو گروپونو يو هجايي، پيوندي او تصريفي وېشل کېږي.[٦] په مورنۍ ژبه خبرې کول د ټولنې څخه نه زده کېږي لومړۍ له مور نه زده کېږي باچا خان وايی: ((مور د ماشوم لومړۍ ښوونکې ده.))[۷] سربېره پر دې چې ټولې چارې يعنې د ژوند چارې ور څخه زده کوو ژبه هم له مور نه زده کوو چې بيا يې په ټولنه کې د ټولنې په اغېز سره د افهام او تفهيم لپاره کاروو.

په مورنۍ ژبه زده کړې هم آسانې او هم خوندورې وي يعنې د ستړيا سبب نه کېږي ځکه يو خو درسونه سخت وي او بل چې په مورنۍ ژبې نه وي زده کړه يې درنه تمامېږي. دا ارزښتمنه ده چې زده کړې هم بايد په خپله ژبه ترسره شي. د نمونې په ډول عبدالغفار خان(پاچا خان) په پردۍ ژبه د زده کړې د منفي اړخ په هکله داسې ويلي دي: ((... په سبق کې مې چې د حساب، جيومترۍ او تاريخ سره مينه وه نو په هغې کې تکړه وم او له نورو مضمونونو سره چې مې مينه نه وه نو په هغو کې کمزورې وم او د مينې نه لرلو وجه يې هم دا وه چې د دې مضمونونو ابتدايي زده کړه ما په ښار کې د پنجابي استاد نه په پردۍ ژبه کې کړې وه ښه مې نه و زده کړې ځکه به مې ورته ډېر هم نه لگېدې....))[۸]

د دنيا ټول ژبپوهان په دې خبره يوه خوله دي چې د ماشوم تعليم او تربيت په مورنۍ ژبه کې په کار دی چې د ماشوم فطري صلاحيتونه ضايع نشي ځکه چې د مور غېږه د ماشوم اولنۍ مدرسه وي.[۹]

دا معلومه خبره ده چې ژبه په نه استعمالولو سره ضعيفه کېږي او په مړو ژبو کې شاملېږي، پاچاخان د خپلې مورنۍ ژبې هېرول او نه کارول ښه نه بولي او داسې وايی: ((د ژبې په هېريدو خپلو ته سړی پردی شي....))[۱۰]

دا چې په مورنۍ ژبې سره زده کړې وشي څومره مهم دي بل مثال هم راوړم: ((زموږ په مکتب کې رنگارنگ لوبې کېدې. زما ټولې خوښې وې او په ټولو کې مې سيالان ماتول. له هرڅه سره چې به مې شوق و، هغه کې به مخکې کېدم. له درسونو سره مې جوړه نه وه، نو چندانې خوند مې هم نه وو. حساب، هندسه او تاريخ مې بيا خوښ ول او پکې ماهر وم. له درسونو سره زما د دښمنې بل علت دا وو چې په پردۍ ژبه راته تدريسېدل او ښه سم مې سر نه په خلاصېده.))[۱۱]

په يو بل ځای کې داسې وايي: ((انگرېزانو پنجابيانو ته پرمختللي ښوونځي پرانيستي ول، خو د پښتنو مکتبونه يې په لوی لاس ډېر پسپاته ساتلي ول. کلي کې زموږ گوزاره گرانه شوه. زه پېښور کې ښونځي ته ولوېدم. دې کار که گټه لرله نو تاوان يې هم درلود. کلي کې چې هر څه وو معلم مو پښتو ويله. دلته په پردۍ ژبه راته غږېده. د يوه ماشوم لپاره پر يوه وخت هم زده‌کړې کول هم پردۍ ژبه زده کول ډېر سخت وي.))[۱۲]

په نتيجه کې داسې ويلای شو چې مورنۍ ژبه هغه ژبه ده چې موږ له ماشومتوبه ورباندې غږېږو، يا هغه ژبه چې د هغې په برکت د مور د خولې د کلماتو سره آشنا شولو، هغه ژبه چې موږ په خوب کې پرې خوب وينو او ورباندې خبرې کوو. يعنې زموږ لومړنۍ ژبه مورنۍ ژبه بلل کېږي. دا هم بايد زياته کړم چې د مورنۍ ژبې په کارونې سره سړی ډېر راحت وي او کولای شي چې ښه افهام او تفهيم ورباندې وکړي او سربېره پر دې په مورنۍ ژبې سړی ښه ليکنه او وينا کولای شي. زما په آند زده کړې بايد په مورنۍ ژبې ترسره شي ځکه که درس سخت وي او بل دا چې ژبه دې هم لومړۍ ژبه نه وي نو دا د محصل او زده‌کوونکي د ستړيا او بی حوصله‌گۍ سبب گرځي. هغه ژبه چې په کارونې سره يې انسان ډېر راحت وي او خبرې کول پرې خوند کړي زده‌کړې هم بايد په همدغه ژبه وشي ځکه په دې کار سره هم خپلې ژبې ته ارزښت ورکوو او هم خپله ژبه نه هېروو. البته دا هم بايد ووايم چې ژبپوهان د زده کړو په اوږده لړۍ کې د مورنۍ ژبې په کارونه باندې تاکيد کوي د همدې ټينگار د اهميت په دليل هر کال د فبرورۍ د مياشتې يوويشتمه ورځ په نړيواله کچه د مورنۍ ژبې د ورځې په نوم نمانځله کېږي.

مأخذونه


۱. پښتو- پښتو تشريحی قاموس. د افغانستان د علومو اکاډمي، ميديوتيک: کابل ۱۳۸۳کال، ۲۹۲۱مخ.

۲. د اصل يا منشاء قاموس (د جرمني ژبې ايتمولوژي) اووم ټوک، ډوډېن چاپخونه: منهايم، لايپزيک، ۲۰۰۷کال، ۵۴۷مخ (د استاد تنيوال ژباړه).

۳. د جرمني ژبې وړوکی قاموس (واهريښ) موزيک چاپخونه: مونشن، ۱۹۸۲کال، ۵۵۰مخ، (د استاد تنيوال ژباړه)

۴. آريانا دايره المعارف ،څلورم ټوک. کابل: د افغانستان د علومو اکادمی. ۱۳۹۰ کال، ۲۳۰مخ.

۵. امن، نور البصر. مورنۍ ژبه او د بنيادي نصاب فيصلې. عامر پرنت ايندپبلشرز، پېښور: ۲۰۱۴کال، ۱۲ مخ.

٦. مياخيل، عصمت الله. گرډود پوهنه، دويم چاپ، ليان اميری بنسټ: هرات: ۱۳۹۷کال، ۸۳، ۸۴مخونه.

۷. عبدالغفارخان(پاچاخان). زما ژوند او جد و جهد. امن پرنټينگ پرس:پېښور، ۲۰۱۹ کال، ۹مخ.

۸. پورتنی اثر، ۵۵ مخ.

۹. مورنۍ ژبه او بينادي نصاب فيصلې، ۱۲ مخ.

۱۰. زما ژوند او جد و جهد، ۴۸۳مخ.

۱۱. پورتنی اثر، ۱۱مخ.

۱۲. پورتنی اثر، ۱۰مخ.


## د مقالې ليکلو...

### د مقالې د لنډيز (Abstract) په ليکلو کې مهم ټکي

۱. د لنډيز ليکلو په وخت کې له قوي او واضح کلمو څخه بايد گټه واخيستل شي. دې ته په پاملرنې سره چې تاسې د يوې علمي مقالې لنډيز ليکئ، نو پر واقعيتونو باندې ډېره تکيه وکړئ، ساده او لنډ يې وليکئ.

۲. د متن ليکلو په وخت کې بايد يووالی موجود وي، د موضوع د تسلسل له مخې مخکنۍ او وروستنۍ جملې د څېړنې د موضوع اصلي او سره کرښه وپالي.

۳. مهمه نه ده چې د مقالې ليکلو اصلي سبک دې په لنډيز کې هم وساتل شي؛ ځکه چې لنډيز ليکل يو علمي او فني کار دی، نه ادبي، خو په داسې حال کې غوره ده چې د لنډيز ليکلو او ښودلو سبک بايد د ليکوال د ليکلو د خپل سبک او نظم هينداره وي، مگر دا هغه وخت شونې ده چې د بدلون او سمون لپاره يو قانع کوونکی دليل موجود وي. يعنې ځينې مجلې او ژورنالونه چې د ليکلو ځانگړی سبک لري، د مقالې ليکلو پر وخت بايد هغه وپالل شي، خو د لنډيز په وخت کې ليکوال اړ نه دی، چې د لنډيز ليکلو پر مهال هم هغه ته پاملرنه وکړي، کولای شي لنډيز د ليکلو په خپل عادي سبک وليکي، خو که چېرته له ده څخه په دې اړه پوښتنه کېږي، نو بايد يو قانع کوونکی ځواب ولري.

# د مورنیو ژبو نړیواله ورځ...

وخت په تېرېدو سره نورې ژبې زېږېدلې دي، اوس نو دا ربښتینولي ډېره گرانه ده، چې په نړۍ کې به څومره ژبې وي. نن سبا د نړۍ د ژبو شمېر زرگونو ته رسي، خو د ژبو دا شمېره دقیقه او عملي نه ده، ځکه ډېرې ژبې لا بې نومه ورکې دي او له دې سره په څنگ کې د ژبې او گړدود ترمنځ د ټاکلې کرښې یا پولې معلومول هم گران دي. ډیجیټل ژورنال (Digital journal) د یونیسکو په حواله په خپل هغه راپور کې چې سرلیک یې دی: د نړۍ نیمایي ژبې به تر ۲۱۰۰ کال پورې متروکې شي، لیکلي چې :"نن سبا په نړۍ کې۶۹۱۲ ژبې شته"

د نړۍ د ژبو په اړه د ملگرو ملتونو د تعلیمي، علمي او کلتوري اداري یونیسکو (UNISCO) د ۲۰۱۰ز.کال په راپور کې، چې د نړۍ له گواښ سره د مخامخ ژبو اطلس نومېږي (Atlas of the World's Languages in Danger) د نړۍ د ژبو د اوسني حالت په اړه راغلي دي: "نږدې له ۶۰۰۰ زرو ژبو څخه نیمايي ژبې، چې اوس پرې خبرې کېږي د ورکېدو له گواښ سره مخامخ دي، خو دا پروسه نه حتمي ده او نه له امکانه لرې. له دې ډلې په نړۍ کې ۲۴۷۳ ژبې د مړینې له گواښ سره مخامخ دي، ۱۷۸ ژبې له لسو څخه تر پنځوسو پورې ویونکي لري، ۱۴۶ ژبې له لسو تنو څخه لږ ویونکي لري، ۵۷۷ ژبې د مړینې له سخت گواښ سره مخامخ دي او له ۱۹۵۰ز.کال راهیسې تر اوسه پورې ۲۳۰ ژبې له منځه تللې دي.

د نړۍ په ژبو کې شاوخوا ۱۳ داسې ژبې دي، چې له سلو میلیونو ډېر ویونکي لري او د نړۍ ۹۵ سلنه وگړي له زرگونو ژبو څخه له سلو څخه په لږو ژبو خبرې کوي، د نړۍ پاتې ۵ سلنه وگړي په زرگونو ژبو خبرې کوي، یعنې د ویونکو شمېر یې خورا لږ دی، نو که ژبې هرڅومره ډېرې دي، خو کوټلې شمېره یې لا هم سل په سلو کې نه ده څرگنده او نه یې د ویونکو شمېر څرگند دی او داسې ویل کېږي، چې تر ۲۱۰۰ ز.کال پورې به د نړۍ ډېرې اوسنۍ ژوندۍ ژبې متروکې او له منځه ولاړې شي.

د نړۍ ژبې اثر لیکوال میشل مالرب د وینا او د هغو ژبو په اړه چې لیکل کېږي لیکي: "ستونزه دا ده چې ډېرې لږې، یعنې ۱۰۰ ژبې داسې دي چې لیکل پرې کېږي، خو د وینا د ژبو شمېر او تنوع څو ځله له هغو ژبو ډېره ده، چې لیکل پرې کېږي او دا معلومول هم په اسانۍ شوني نه دي، چې کومه یوه ژبه او کوم یو گړدود دی.

د ژبو تاریخ نومې آثر لیکوال توري یانسون لیکلي: "د هغو ژبو له ډلې څخه، چې اوس په نړۍ کې ویل کېږي، ډېرې یې لږ شمېر ویونکي لري. اوس په نړۍ کې نږدې اووه میلیارده انسانان موجود دي، اکثریت یې په ۸۵ غټو ژبو خبرې کوي او هره ژبه یې لږ تر لږه لس میلیونه ویونکي لري، چې په مجموع کې پنځه میلیارده ویونکي کېږي، پاتې تر دوو میلیاردو لږ ویونکي یې پر نورو ۶۸۰۰ ژبو وېشل شوي دي.

اتنولاگ (Ethnologue) د نړۍ د ژوندیو ژبو شمېر ۷۰۹۷ ښوولی، خو ما چې په اتنولاگ کې د ځینو ثبت شویو ژبو مطالعه کړې، دا راته څرگنده شوې، ځینې داسې نومونه چې د فلالوجستانو په څېړنو کې د ځینو ژبو گړدودونه گڼل شوي، یعنې لا تر اوسه پورې پرې د جلا ژبې حکم نه دی شوی، خو اتنولاگ د جلا ژبو په توگه ثبت کړي، نو د نړۍ د ژوندیو ژبو شمېره ښایي دومره نه وي، لکه اتنولاگ چې ثبت کړې ده.

دا معلومول چې په نړۍ کې څومره ژبې دي گرانه ده، ځکه لومړی خو په ځینو برخو او ځانگړنو کې د ژبې او گړدود توپیرول ستونزمن دي، د ځینو ژبو یوازې نومونه یا څو کلمې پاتې دي او د افریقا او امریکا د ډېرو ژبو داسې ډلبندي چې باور وربانده وشي لا نه ده شوې، خو د نړۍ ننۍ ډېرې ژبې ژبپوهانو د ژبنیو کورنیو په ډلبندیو کې ځای پر ځای کړي، ځینې لا هم له دغو ډلبندیو دباندې دي، خو په یو نه یو ډول له ځینو نورو ژبو سره اړیکې لري او یا په یوازې ځان ځانگړې ژبې یا ځانگړې کورنۍ لري.

**د افغانستان د ژبو حالت څه ډول دی؟**

له تاریخي مطالعې څرگندېږي، چې افغانستان د هند نیمې وچې ته د ورننوتو ور و او له دې هېواد څخه د ورېښمو لارې د تېرېدو له امله دغې سیمې د بېلابېلو توکمونو، کلتورونو او مدنیتونو د لېږد- رالېږد د څلورلارې حیثیت درلود. افغانستان د ځینو لرغونو آریایي قبیلو آر ټاټوبی او استوگنځای هم و، له منځنۍ اسیا څخه سوېلي اسیا ته ډېر توکمونه د افغانستان له لارې لېږدېدلي، همدارنگه له سوېلي اسیا څخه گڼ توکمونه افغانستان او شاوخوا سیمو ته راغلي دي. د همدغه لېږد- رالېږد په بهیر کې په افغانستان کې د گڼو توکمونو وگړي پاتې شوي او دلته یې ژوند کړی دی. دغو بېلابېلو توکمونو جلا جلا ژبې درلودې او چې په کومه سیمه کې مېشت شوي، تر ډېر مهال یې خپلې ژبې ساتلې هم وې، خو د وخت په تېرېدو د ځینو دغو کډوالو توکمونو ژبې د سیمه ییزو واکمنو ژبو تر اغېز لاندې راغلې، ورو ورو یې ویونکو خپلې ژبې له لاسه ورکړې او سیمه ییزې پیاوړې ژبې یې خپلې کړې، خو هغه ژبې چې ویونکي یې لږ ډېر وو، ژوندۍ پاتې شوې دي.

د لوی افغانستان په جغرافیه کې له امو تر مارگلې او له چتراله تر سپوې پورې سیمې شاملې وې، دغه سیمې د تاریخي افغانستان د جغرافیې برخې وې، چې ځینې برخې یې انگرېزانو په زور د افغانستان له وجوده بېلې کړې دي، نو ټولې هغه ژبې چې له امو تر مارگلې او له چترالـه تر سپوې پورې سیمو کې یې ویونکي درلودل د تاریخي افغانستان د جغرافیې ژبې وې.

د افغانستان ژبې او توکمونه نومې آثر ساکي، تخاري، یفتلي، باختري، اوستایي، پښتو، اورمړي، پراچي، شغناني، روشاني، شکاشمي، واخاني، منجاني، سغدي، یغنوبي، خوارزمي، اوسیتي، زړه پارسي، منځنۍ پارسي، نوې دري، اشکاني، پهلوي، بلوڅي، براهوي، کُردي، تیرایي، وټه پوري، شوماشتي، گوارباتي، کهواري، نورستاني، کاتي، وایگلي، اشکوني او پرسوني د افغانستان ژبې گڼلې دي. په دغو ژبو کې ځینې پخوانۍ ژبې، لکه ساکي، تخاري، یفتلي، باختري، اوستایي، خوارزمي، اوسیتي، اشکاني، پهلوي او ځینې نورې چې اوس ویونکي نه لري مړې ژبې گڼل کېږي، د دې ترڅنگ ځینې دغه ژبې پر افغانستان سربېره د نورو سیمو ژبې هم وې، چې یوازې په افغانستان پورې یې تړل مناسب نه برېښي. له دغو ژبو موږ ته یوازې ځینې متون، کتیبې او سِکې راپاتې دي، خو په تاریخي لحاظ دغو ژبو د دې سیمې په پخوانیو وگړیو پورې اړه درلوده او ډېرې اوسنۍ ژبې له همدغو پخوانیو ژبو زېږېدلي او ان تر ننه یې زموږ د سیمې په دودو ژبو کې ډېرې کلمې او ترکیبونه لا ژوندي پاتې دي. پر یادو ژبو سربېره یو مهال په اوسني افغانستان کې قزاقي، قرغېزي، تاتاري، اویغوري، افشاري، تایمني، ایماقي، جمشېدي، فېروزکوهي، قزلباشي، مغولي، پنجابي،هندکو، لهندا، شکارپوري، چغتایي، مروي- شکېباني، سندهي، کُردي، عبري، عربي او ځینو نورو ژبو هم ویونکي درلودل او ځینې یې اوس هم لري. اکثره دغه ژبې د مهال په تېرېدو سره پر دري او ډېرې لږې یې پر پښتو بدلې شوي، ځکه نو د افغانستان د ژبو د شمېر په اړه په اکاډمیکو څېړنو کې توپیر لیدل کېږي، خو افغانستان له پخوا راهیسې یو گڼ ژبیز (Multilingual) هېواد و او نن سبا پکې تر ۳۰ زیاتې مستقلې ژبې اوس هم د تفهیم وړ دي.

په افغانستان کې قومي او ژبنۍ رنگارنگي (تنوع) یو له بل سره گډ او د گاونډېتوب ژوند د دې لامل شوی، چې د دې هېواد هره سیمه د خپل ځانگړي جغرافیوي موقعیت له مخې سربېره پر قومي گډوالي، د نورو ژبو اغېزې لري او یا یې پر نورو ژبو باندې اغېزه کړې ده. له بلې خوا پښتو او دري د افغانستان رسمي ژبې دي، نور قامونه پر خپلو مورنیو ژبو سربېره له دواړو ژبو؛ پښتو او دري او یا له یوې سره اشنایي لري. له همدغه امله د پښتو او دري ژبو لږ و ډېر ژبني عناصر د نورو قامونو په ژبو کې هم لیدل کېږي او یا اپوټه د افغانستان د نورو ژبو ژبني عناصر په پښتو او دري کې لیدل کېږي. د افغانستان ټولې اوسنۍ ژبې کېدای شي په دوه سترو ډلو : اندو- اروپایي او نا اندو- اروپایي ژبکورنیو ووېشل شي، چې له دې ډلې ځینې ژبې پخوا او ځینې یې اوس د مرگ له گواښ سره مخامخ دي، لکه تیراهي او وټه پوري ژبې متروکې شوي، نن سبا ښایي یو ویونکی هم ونه لري او که یو نیم ویونکی لري هم په بله ژبه به غږېږي. د افغانستان په اوسنیو ژوندیو ژبو کې ځینې پامیري ژبې او پراچي ژبه سره له دې چې څه ناڅه ویونکي لري، خو د بېلابېلو لاملونو له امله هره ورځ د متروکېدو پر لور رواني دي، ځینې نورې ژبې لکه گوري، شوماشتي، براهوي او ساووجي چې ویونکي یې لږ دي او لیکلې ادبي پانگه یې هم پیاوړې نه ده، ښایي په نږدې راتلونکې کې له بېلابېلو گواښونو سره مخامخ شي.

**په مذهبي او ټولنیز لحاظ ژبې څه اهمیت لري؟**

په ټولو ادیانو او مذاهبو کې ژبه ځانگړی ارزښت او اهمیت لري، ځکه د مذاهبو د ترویج او خپرېدو لپاره تر هر څه لومړی ژبه ډېر اهمیت لري. د اسلام په مبارک دین کې هم ژبه د اهمیت وړ ده، ځکه په قرآن کریم کې الله(ج) فرمایلي: ﴿وَعَلَّمَ ءَادَمَ ٱلۡأَسۡمَآءَ كُلَّهَا﴾[البقره:۳۱] یعنې ادم علیه السلام ته یې د ټولو شیانو نومونه وښودل. یا ﴿خَلَقَ ٱلۡإِنسَٰنَ۝٣ عَلَّمَهُ ٱلۡبَيَانَ۝٤﴾[الرحمن: ۳- ۴] یعنې الله پاک انسان پیدا کړ او بیان یې وروښود(غږېدل یې ورز زده کړل). د اسما او بیان اصطلاحي معنا یعنې ژبه ځکه ژبه پخپله له اسماوو، یعنې نومونو څخه جوړ ده او بیان هم ژبه ده چې اسما یعنې نومونه پرې څرگندېږي. الله تعالی ټولو قامونو ته خپل استازي(پیغمبران) د هماغو قامونو د وگړو په ژبه وراستول، چې ژر ورسره د ژبې له برکته د دیني امورو پوهاوی راپوهاوی وشي. د همدغه اهمیت او ارزښت له امله د لسان کلمه په قرآن کریم کې پنځه ویشت ځله راغلې ده، کله په مفرده بڼه، یعنې لسان او کله د جمعې په بڼه یعنې السنه. ۲۴ ځله د لسان کلمه د اړیکو ټینگولو او یو ځل لسان د انسان د بدن د یوه غړي په توگه یاده شوې ده، همدغه ډول د حضرت محمد(ص) په احادیثو کې هم د ژبې ذکر شوی دی، خو اسلام دا هم ویلي، چې الله تعالی انسانان قامونه، قبیلې د بېلو بېلو ژبو والا پیداکړي، خو الله پاک ته هغه انسان غوره دی، چې تقوا او پرهیزگاري ولري.

د ټولنیزو علومو په ځینو اثارو په ځانگړي ډول په ژبنیو اثارو کې د ژبو په اړه دا خبره کېده، چې ژبه یوازې د پوهاوي او راپوهاوي یوه وسیله ده، خو نن سبا د ټولنپوهنې، ژبپوهنې په ځانگړي ډول د ټولنیزې ژبپوهنې د اصولو له مخې دا تعریف د ژبې ټول ټولنیز مفهوم نه وړاندې کوي، ځکه چې ژبه د انسانانو د پېژندگلوۍ، هویت، تاریخ، فرهنگ، مدنیت او تهذیب ستره او بنسټیزه هسته ده. د لرغونپوهنې پربنسټ ټول لرغوني مدنیتونه د ژبې او هنر په مرسته تر اوسنیو زمانو رارسېدلي دي. د یوه قام د عظمت اندازه د هغه قام له ژبې او ادب څخه معلومېږي، ژبې پخپله ژوندۍ نه پاتې کېږي، بلکې هوښیار او ویښ قامونه د خپلو ژبو د ژوندي ساتلو، پاللو او پرمختگ لپاره شعوري او نه ستړې کېدونکې هڅې کوي. کوم قامونه چې ژبه له لاسه ورکړي، په ټولنیز لحاظ د مړو قامونو په ډله کې شمېرل کېږي.

**د ژبو د ژوندي پاتې کېدو لپاره څه کول پکار دي؟**

پخوا به ژبې د طبیعي پېښو، وژونکو ناروغیو او د زبرځواکو د لښکري بریدونو له امله، چې د یوې ژبې ویونکي به ټول له منځه ولاړل، نو ژبې به یې متروکې شوې، خو په یوویشتمه پېړۍ کې معلوماتي ټېکنالوژۍ، نړیوالتوب، د نړۍ صنعتي کېدو، رسنیو او ځینو نورو لاملونو د نړۍ ژبې، په ځانگړي ډول هغه ژبې چې لیکلې علمي او ادبي پانگه نه لري یا یې ویونکي لږ وي ډېر سخت د متروکېدو له گواښ سره مخامخ کړي، نو پکار ده، چې د بشري فرهنگ د دې عظیمې پانگې د ساتنې او پاللو په برخه کې اړوندې اداري او حکومتونه ډېره پاملرنه وکړي. ژبې باید ثبت شي، د وگړیو د نفوسو ثبات ساتل، چې ډېره ستونزمنه چاره ده، خو پاملرنه ورته بې گټې نه ده، د کلیوالو سیمو د وگړیو د ژوندانه ښه کېدا ته پاملرنه، په مورنۍ ژبو ټولو وگړیو ته د زده کړو زمینه برابرول، د ناسمو ژبنیو سیاستونو له منځه وړل، ادب او صحافت ته وده ورکول، د ژباړې فن ته وده ورکول، د فرهنگي یرغلونو مخنیوی، د نړیوالتوب د اغېزو د مخنیوي لارې چارې لټول، ژبو ته په ټولنو کې ټولنیز اعتبار ورکول، د مسلطې ژبنۍ ټولنې په وړاندې د ژبو قانوني قدرت پیاوړی کول، د هېواد په تحصیلي ډگر کې د ژبو د ویونکو پیاوړی حضور، ژبو ته په مارکېټ، اقتصاد او بازار کې شعوري ځای ورکول، په ټولو ورځنیو چارو کې په شعوري ډول د ژبو کارونه، رسنۍ درلودل او ځینې نور، هغه ټکي دي چې په عملي کېدو سره یې ژبې پرمختگ کولای شي او د متروکېدو له گواښ څخه ژغورل کېدای شي.

---

# د ژبې د ژوند...

په رومانیا کې د لاتیني بهیر پلویانو[7] رومانیایي ژبې ته د لاتین ژبې د یوه داسې ړنگېدونکي فورم په سترگه وکتل چې باید منشایي ژبې ته بیا له سره ورنږدې شي. دوی داسې وړاندیز وکړ چې باید پردي ویيونه ورک او پر ځای یې لاتین منشأ لرونکي ویيونه ځای پر ځای شي.

په جرمني کې په دقیقه توگه پوریزم د اووه‌لسمې پېړۍ څخه پسې وپالل شو او دا لیکه د زیسن[8] څخه تر نازي[9] پورې مخته ولاړه. فلیپ فون څېسن[10] او فرانځ میرینگ[11] د پورېزم یا د ژبې د نگه توب مخکښان وو، تر نازي پورې ځانگړو پورېستي جریانونو د ټولنیز تاریخي وضعیت په اساس بېلابېلې دندې درلودې. دې ډول وړاندېینو طبعاً داسې څه په میراث پرېښودل چې د ژبې د نورمال وړاندې تگ مخنیوی وکړي. طبعاً سړی دا اجازه نه لري چې د دې څخه دا نتیجه واخلي چې انسان په هیڅ ډول د ژبې په پرمختگ کې ونډه نه اخلي، د افرادو او اشخاصو له خوا په ویيونو او پښویه کې بدلونونه[12] د پایلې لرونکي دي، خو د دې لپاره چې د دوی کړنې ومنلی شي بایده دي چې نوي ویيونه او فورمونه په هماغه وخت کې د پوهولو او راپوهولو د لړۍ د رښتینو اړتیاوو سره مطابقت ولري. هغه بدلونونه چې د ژبې د اصولو او قاعدو سره ډېه لگوي په وظیفوي سیستم کې خپل ځانونه منظم او ځای پر ځای کوي او منل کېږي. د جرمني ژبې تاریخ دا ښیي چې په ډېرو حالتونو کې د داسې ترلاسه شویو ویيونو ایجادول د ثبوت[13] وړ دي. د فلسفي ویې پانگې زیات آلماني ویيونه او څرگندونې چې نن هم د پوهېدو وړ دي د کرسټین وولف[14] له خوا غني شوي دي. د آلماني ویيونو او څرگندونو سره په ارتباط کې باید دا یادونه وشي چې د واک پر گدۍ ناستې طبقې د دې جوړونې ننگه نه کوله، کله کله خو یو دولتي یا رسمي دفتر[15] د بدلون د ابتکار[16] لامل گرځي، خو په دې حالت کې هم یو بدلون هغه وخت خپل ځان پراخوي چې د غږېدونکو(خلکو) له خوا اړین محسوس کړای شي. ژبني بدلونونه په یوه موډرنه ټولنه کې د هغې ټولنې د کلتوري پرمختگ او پراختیا له وسیلو سره سم چې په دفتري کچه یا د دفتر له خوا پېژندل شوې وي زیات چانسونه لري تر څو عام او ومنل شي، د ملي ژبې[17] د عمومیت او د سیمه‌ییزو گړدودونو د لرې کولو لپاره د دفتري کارونې رول په ځانگړي ډول مهم او اړین دی.

**یادونه:** دغه موضوع مې د Einfuehrung in die Spachwiss نومې اثر څخه را لنډه کړې او ژباړلې ده.

۱. Vernunft
۲. Tendenz
۳. Malherbe
۴. Literatur
۵. Logik
۶. Jonathan Swift
۷. Anhaenger
۸. Zeesen
۹. Nazis (Nazismus یا Nationalsozialismus)
۱۰. Philipp von zeesen
۱۱. Franz Mehring
۱۲. Neuerungen
۱۳. Beweis
۱۴. Christian Wolff
۱۵. Amt
۱۶. Initiative
۱۷- د ملي ژبې په اړه د ډېرو معلوماتو د ترلاسه کولو لپاره د ژبپوهنې د نومونو د سیند ۱۵۸- ۱۵۹مخونه وگورئ. دغه سیند په جرمني ژبه لیکل شوی او د لایپزیک په ښار کې چاپ شوی دی.

---

# د مقالې لیکلو...

وویل شي چې د دې موضوع له څېړنې څخه ستاسو تر ټوله لویه موندنه څه ده؟ یعنې نوي څه چې تر لاسه شوي وي، هغه باید پکې وښودل شي.

**د مقالې د لنډیز (Abstract) ډولونه**

د جوړښت له مخې د مقالې لنډیز په درې ډولونو وېشل شوي دي:

**۱. معلوماتي او گټور لنډیز (Informative Abstract)**: دا ډول لنډیز د ټول بحث هینداره وي او د ټول اساسي بحث څخه اصلي موندنې او د امکان تر کچې په یوه خبري جمله کې د څېړنې څومره والی او څرنگوالی وړاندې کوي. دا ډول لنډیز د مطالبو او معلوماتو په وړاندې کولو کې د اړتیا وړ سرسري سرچینو څخه تیار شوی وي، چې د سرچینې دنده تر سره کوي. هېره دې نه وي، چې معلوماتي لنډیزونه د نورو مقالو له لنډیزونو څخه اوږده وي. لنډ را پوروونه (گزارشونه) او د مجلو مقالې له ۱۰۰ څخه تر ۲۵۰ کلمو پورې لنډیز ته اړتیا لري. مگر د تفصیلي گزارشونو او رسالو لپاره تر ۵۰۰ کلمو پورې مناسب لنډیز وي. د لنډیزونو اوږدوالی باید د معلوماتو له حجم سره متناسب وي، نو پر دې اساس نه شو کولای چې د معلوماتي لنډیز لپاره د کلمو یو ټاکلې اندازه په پام کې ونیسو. معلوماتي لنډیز د نورو لنډیزونو په پرتله پوره، خو د برابرولو له مخې یو څه ستونزمن او لگښت یې زیات وي.

**۲. لار ښودونکي لنډیزونه (Indicative Abstract):** دا لنډیزونه د ټولو اساسي بحثونو او موندنو اصلي مدرک نه دي، بلکې د بحث کلي او اساسي مطالب وړاندې کوي. دا ډول لنډیزونه تر ډېره د مقالو، کتابونو، د خبري کنفرانس لنډیز او د کتابښودنې پر وخت کارول کېږي یا ورڅخه گټه اخیستل کېږي. په لارښودونکو لنډیزونو کې، د نورو لنډیزونو پر څېر هڅه نه کېږي چې د مقالې ټوله منځپانگه روښانه کړي. په لارښودونکو لنډیزونو کې تر ډېره د ((ورکول کېږي))، ((څېړل شوي)) او ((بحث شوي)) کلمې تر سترگو کېږي. لارښودونکي لنډیزونه د ټول ښودونکي لنډیزونو پر خلاف د موندنو اصلي مدرک نه شي په گوته کولی، ځکه چې په هغه کې کار ډېر برسېرن وي، یعنې ډېر د مسئلې ژورو ته لوستونکی نه داخلوي، نو پر همدې خاطر د ټول ښودونکې لنډیز ((تمام نما)) په نسبت یې ارزښت کم وي. د اسانه، د ژر تیارېدونکي او په تیارولو کې د کم مصرف له امله دا ډول لنډیزونه ډېر معمول دي. دا ډول لنډیز د یو مطلق لنډیز په ډول یادول کېږي. د دې ډول لنډیزونو جملې توصیفي بڼه لري، اوږدوالی یې په منځنۍ کچه له ۷۵ څخه تر ۱۵۰ کلمو پورې رسېږي.

**۳. ټول ښودونکی (تمام نما) لنډیز (Indicative-Informative Abstract)**: دا ډول لنډیز تر ټولو یو مناسب او لارښوونکی لنډیز دی، د دې لنډیز یوه برخه داسې لیکل کېږي چې د ټولې مقالې استازیتوب وکړي او نورې برخې یې بیا لږ اهمیت لري، یعنې موضوع په بشپړ ډول نه وي په کې روښانه شوې. په دې ډول لنډیز کې هم کولای شو چې موضوع او معلومات په کمو الفاظو کې وړاندې کړو. ۲مخ

# زېرى

علمي - څېړنيزه او ادبي پنځلس ورځنۍ جريده

د تأسيس کال ۱۳۱٦ هجري شمسي

د ۱۳۹۹ ل.کال د کب(حوت) مياشت | ۲۳- ۲۴مه ګڼه | پرله پسې ۳٦۷- ۳٦۸مه ګڼه

د افغانستان د علومو اکاډمي
د ژبو او ادبیاتو مرکز خپرنيز ارګان

**مسئول مدير:** څېړندوی احسان الحق کبير

**کتنپلاوی:** څېړنپوه دوکتور سيد محي الدين هاشمي، څېړندوی احسان الحق کبير، څېړندوی مطيع الله ساحل، څېړندوی لطف الله صابر، څېړنياره شفيقه نوري.

**د اړيکي شمېره:** (+۹۳)۷۴۴۴۸۷۳۳۵

**برېښناليک:** zerai1316@gmail.com

● په زېري جريده کې له سرليکنې پرته، د نورو ليکنو سپيناوی په خپله د ليکوالو پرغاړه دی.

www.asa.gov.af

د علومو اکاډمي، د ژبو او ادبياتو مرکز، زنبق څلورلارې، نوی ښار کابل- افغانستان

**د يوې ګڼې بيه:** پنځه افغانۍ


## د فرهنګي او ادبي خبرونو پېښليک




څېړنوال محمد آصف احمدزی


### د نرګس ګل مشاعره جوړه شوه

د ننګرهار د اطلاعاتو او فرهنګ رياست له لوري د نرګس ګل مشاعره د لر و بر شاعرانو او د شعر مينه والو په ګډون ترسره شوه.




دغه مشاعره د کب په لومړۍ نېټه ماسپښين د ننګرهار د اطلاعاتو او فرهنګ رياست د ملالې ميوند پارک کې تر سره شوه چې د ننګرهار او ختيځ زون پر شاعرانو سربېره د کوزې پښتونخوا شاعرانو، ليکوالو، د ننګرهار والي او د ولايت مرستيال په کې برخه اخيستې وه.

په دغه مشاعره کې له کوزې پښتونخوا سيده حسينه ګل، ناياب، پروفيسور اسير منګل او حيات روغاني برخه اخيستې وه چې د مشاعرې په جوړولو يې خوښي ښوده.

### کندوز کې د سولې او پخلاينې په نوم مشاعره ترسره شوه

دغه مشاعره د کب پر لومړۍ نېټه د جمعې په ماښام د کندوز مرکز کې د فرهنګيانو او شاعرانو له خوا جوړه شوې وه چې په کې سيمه‌ييزو چارواکو، ځوانانو، شاعرانو او فرهنګيانو ګډون کړی وو.



### جلال اباد کې د سولې او پرمختګ د کتابونو ستر نندارتون ترسره شو

د ننګرهار ولايت مرکز جلال اباد ښار ارونډ پاچا خان مزار کې د اماني فکري ټولنې او اطلاعاتو او فرهنګ رياست له لوري د سولې او پرمختګ تر عنوان لاندې د کتابونو درې ورځنی نندارتون د کب پر ۲مه پرانيستل شو چې په کې بېلابېل علمي، تاريخي، سياسي او ټولنيز اثار ننداري ته اېښودل شوي وو.



د علومو اکاډمي علمي- څېړنيز آثار هم په دې نندارتون کې د خرڅلاو لپاره ايښودل شوي وو.

### کابل کې د مورنۍ ژبې نړيواله ورځ ونمانځل شوه

د افغانستان کلتوري ټولنو ګډې جرګې د فبروري ۲۱مه د مورنۍ ژبې نړيواله ورځ ونمانځله.

دغه غونډه په کابل کې د علومو اکاډمي د غونډو په تالار کې د کب پر ۳مه جوړه شوه چې د علومو اکاډمۍ علمي غړو او څېړونکو، د پوهنتونونو استادانو، ګڼو ماشومانو په کې ګډون کړی وو.

په غونډه کې د پوهنتونونو د استادانو د اتحادیې رئيس پوهاند نجيب الله امرخېل وويل: ژبه د بشريت روح او تکامل دی، که انساني ټولنې څخه ژبه واخيستل شي، انساني ټولنه به ټپه درېږي. د علومو اکاډمۍ علمي منشي څېړنوال دوکتور رفيع الله نيازي په نړۍ او افغانستان کې د ژبو پر وضعيت او تاريخچې خبرې وکړې او ويې ويل: د پاکستان او بنګلدېش د بېلتون او جلاوالي يو اصلي عامل ژبه وه .



د هغه په وينا، د علومو اکاډمي د خپل امکان او توان په اندازه د يوه علمي- تحقيقي مسئول بنسټ په توګه د هېواد په لويو او وړو ژبو څېړنې کړي او په راتلونکي کې هم په دې اړه برنامې او پلانونه لري.

د کلتوري ټولنو ګډې جرګې د دارالانشاء غړي ضياءالحق حقپال په خپلو خبرو کې وويل چې دولت د اساسي قانون له مخې مکلف دی، هغه خلک چې په کومه سيمه کې په کومه ژبه خبرې کوي، بايد په هماغه ژبه ورته د زده کړو زمينه برابر کړي.

### بلخ او پښتونخوا کې د مورنۍ ژبې نړيواله ورځ ونمانځل شوه

په بلخ ولايت کې د فبروري ۲۱مه د مورنۍ ژبې نړيواله ورځ د کب پر ۳مه په بلخ ولسوالۍ کې ونمانځل شوه.

د بلخ فکري بنسټ مسئول غلام رسول ملکزي وويل چې حکومت بايد د ټولو ژبو ويونکو ته په مورنۍ ژبه د زده کړو زمينه برابره کړي.




د سترې اريانا عالي لېسې ښوونکې کريمه دولتزۍ وايي، په بلخ کې د دوی د ماشومانو ستره ستونزه په مورنۍ ژبه د زده کړو نشتوالی دی.

هغې وويل: (( زموږ په بلخ ولسوالۍ کې ۵۴ ښوونځي فعال دي، خو دا نږدې ټول په يوه ژبه دي چې دا حالت مايوسوونکی دی.))

د مورنۍ ژبې نړيوالې ورځې په مناسبت جوړ شوي دغه پروګرام کې د ښوونځيو زده کوونکو، ښوونکو او مدني فعالانو هم برخه اخيستې وه.



دغه راز د خيبر پښتونخوا ايالت په پېښور ښار کې د افغان کډوالو رياست له خوا هم د مورنۍ ژبې نړيواله ورځ ونمانځل شوه.

په دې مراسمو کې چې د پښتو ژبې د وتلي ليکوال او شاعر سيد صابر شاه صابر په مشرۍ د کب پر ۳مه جوړ شوي وو، د افغان کډوالو رئيس لعل زمان مومند، مرستيال ډاکتر الطاف احمد هميم، صادق ژړک، يلده بازوان، امان الله نصرت، فضل مولا تورکي، قاضي حنيف الله حنيف، د افغان محصلينو د اتحاديې غړو او نورو شاعرانو او اديبانو ګډون کړی وو.

### هندوستان کې د پښتنو کلنی جشن ترسره شو

د هندوستان په مهاراشترا ولايت کې د پښتنو کلنی جشن (عرس شريف) د کب پر ۴ ونمانځل شو.

په دې مراسمو کې په ممبۍ ښار کې د افغانستان د اسلامي جمهوريت جنرال قونسلې ذکيې وردګ، افغان ډيپلوماټانو، د هندوستان د پښتنو مشر سيد بدرالدين آغا او نورو ځايي پښتنو برخه اخيستې وه.

دا په هندوستان کې د مېشتو پښتنو هغه جشن دی چې هر کال د فبرورۍ پر ۱۴مه د دې هېواد د مهاراشترا ايالت، اکولا ښار، تړالا سيمې په مکان شريف کې نمانځل کېږي چې درې ورځې دوام کوي.

د دې جشن په لومړۍ ورځ د زيارت نښان بدلېږي، وروسته د بېلابېلو قومونو له خوا په مختلفو طريقو په افغاني موسيقي او اتڼونه بدرګه کېږي او ماښام مهال بيا قوالي غړول کېږي.

### د پښتو ژبې وتلی ليکوال او شاعر عبدالرحيم روغاني مړ شو

په کوزه پښتونخوا کې د پښتو ژبې وتلی شاعر عبدالرحيم روغاني له اوږدې ناروغۍ وروسته د ۷۱ کالو په عمر د ۱۳۹۹هـ. ش کال د کب پر ٦مه (د ۲۰۲۱م کال د فبروري ۲۴مه) د چهارشنبې په شپه خپل روح د کائناتو خالق ته وسپاره.



روغاني په پښتو ژبه کې ماسټري کړې وه او د شاعرۍ په برخه کې د زياتو قطعو د ليکلو له کبله په (بابای قطعه) مشهور و.

عبدالرحيم روغاني د ۱۹۵۰م کال د جنوري پر ۱۵مه د پښتونخوا د سوات ضلعې په مټه کې زيږېدلی و. نوموړي تر ډېره بريده ولسي شاعري کړې او په شعر کې يې د خپل ولس ناخوالې بيانولې.

د عبدالرحيم روغاني د شعرونو او نثرونو کتابونه چاپ شوي دي، چې په هغوی کې نوې نغمه، خوږېدلي احساسات، سندريز احساس او د رڼا څاڅکي (د شعرونو ټولګې). خودغرض (نثر)، سندرې او خبرې (منظوم او منثور) او يو د نثر کتاب ((کوربانه خيالونه)) شامل دي.

د ښاغلي روغاني ((خودغرض)) نومی کتاب په انګرېزي ژبه هم د ((The Sacred Spirit of Selfishness)) په نوم ژباړل شوی او په ۲۰۱۹م کال کې په لندن کې چاپ شوی دی.

روغاني د سرطان ناروغۍ له کبله د چهارشنبې په شپه ومړ او په خپله پلرنۍ هديره سوات کې خاورو ته وسپارل شو.

که زه مړ شم مانه هيڅ نه پاتې کېږي
زه د ډېرې کمزورۍ نه زورور يم

### پښتنه او پښتني کلتور

د پښتونخوا په پېښور کې "د پښتو نړيواله مرکه او مفکوره څېړنيز پراختيايي مرکز" له خوا د کب پر ۷مه (د ۲۰۲۱م کال د فبروري ۲۵مه) د «پښتنه او پښتني کلتور»په نوم يو ورځينی سيمينار ترسره شو.




پرانيستونکې وينا د مرکز مشر ډاکټر صادق ژړک وکړه او ورپسې د پيغامونو په لړۍ کې د افغانستان د علومو اکاډمي، د مردان پوهنتون د عبدالولي خان پښتو څانګې، د ملاکنډ پوهنتون پښتو څانګې پيغامونه ولوستل شول.

د علومو اکاډمي په پيغام کې راغلي و: پښتون ولس چې بډای او مغتنم کلتور لري، په کې د نارينه وو ترڅنګ ښځو هم خپله ونډه لرلې او که ترې زياته نه وي، نو کمه هم نه ده.

په دې سيمينار کې پروفيسور ډاکټر سرفراز خان، فيصل فاران، ډاکټر ګل منير ادينزي، کاکړ فتح محمد، ډاکټر محمد علي ديناخېل، قندي ساپی، ډاکټر درويش اپرېدي، ډاکټر نورالبصر امن، ډاکټر سيد ظفرالله بخشالي، ثمينې قادر مقالې ولوستې.

### د ((کوچيان)) اثر مخکتنه وشوه

د استاد حبيب الرحمن د اثر (کوچيان) د مخکتنې غونډه د افغانستان په علومو اکاډمۍ کې د کب پر ۱۰مه د شنبې په ورځ ترسره شوه.



دغه اثر د زرو ټوکونو په شمېر د نوي فکر له خوا په ۳۲۷ مخونو کې چاپ شوی دی.

### د هرات ادبی انجمن د جوړېدو نوي يمه کاليزه ونمانځل شوه

د هرات ادبي انجمن د جوړېدو د نوي‌يمې کاليزې جشن د هرات ادبي انجمن د ځوانانو مرکز د تأسيس له شلمې کاليزې سره جوخت د کب پر ۱۰مه د هرات د والي، د اطلاعاتو او فرهنګ د رئيس، د ادبي انجمن د مسئولينو، ليکوالانو، شاعرانو او فرهنګيانو په ګډون جوړ شو.




د هرات د اطلاعاتو او فرهنګ رئيس اريا رووفيان د هرات د ادبي ټولنې د جوړېدو د نوي يمې کاليزې په مناسبت په دې جوړ شوي جشن کې خوښي څرګنده کړه چې د هرات ادبي انجمن به له دې وروسته د اطلاعاتو او فرهنګ وزارت او د افغانستان د علومو اکاډمۍ تر ملاتړ لاندې وي.

د دغه جشن په پای کې د انجمن د غړو د څلورو شعري ټولګو مخکتنه هم وشوه.

### د فرهنګي ميراثونو د ساتنې او ملاتړ ورځې په وياړ ۱۲ تنو ته دولتي مډالونه ورکړل شول

د افغانستان اسلامي جمهوريت جمهور رئيس محمد اشرف غني د فرهنګي ميراثونو د ساتنې او ملاتړ ورځې په وياړ ۱۲ تنو ته د لرغونو اثارو او کلتوري ميراثونو د ساتنې په برخه کې د غوره خدمتونو د قدرونې په موخه دولتي مډالونه ورکړل.

دغه غونډه په چهار چنار مانۍ کې د کب پر ۲۰مه جوړه شوې وه. په فرهنګي چارو کې د جمهور رئيس سلاکار اسدالله غضنفر د فرمان له لوستلو وروسته جمهور رئيس روښان ولسمل، اجمل وهاب ميوندي، ډاکتر عبدالواسع نجيمي او انجنير محمود جان دوست ته د غازي وزيرمحمد اکبرخان او ډاکتر ارش بوستاني، محمدامان الله‌يار، محمداکبر غرزي، کتاب خان فيضي، احمد ظاهر، سلطان مسعود، رفيع الله عزيزي او محمد داود صادق ته د ميوند فاتح غازي محمد ايوب خان دولتي مډالونه ورکړل.

### افغان کلتوري ټولنې پسرلنی مشاعره وکړه

افغان کلتوري ټولنې د کب پر ۱۷مه د پېښور په بورډ سيمه کې پسرلنۍ مشاعره وکړه چې د لر او بر شاعرانو او اديبانو په کې ګډون وکړ او خپل شعرونه او نظمونه يې په کې واورول.



### د علامه سيد جمال الدين افغاني د ۱۲۴م تلين غونډه وشوه

د علامه سيد جمال الدين افغاني د ۱۲۴م تلين او د "افغانستان در آينۀ تاريخ" کتاب د مخکتنې په درناوي د اطلاعاتو او فرهنګ وزارت د کب پر ۲۱مه غونډه وکړه.



دغه غونډه د اطلاعاتو او فرهنګ وزارت د مسؤلينو، علمي او فرهنګي شخصيتونو او په کابل کې د ترکيې سفارت د استازو په ګډون جوړه شوه.

### په مردان کې د ((شړشم ګل مشاعره)) وشوه

د تېرو کلونو په څېر سږکال هم د باچا امام عمومي کتابتون بخشالي او ساهو پښتو ادبي ټولنې له خوا په بخشالي مردان کې درېيمه د شړشم ګل دوديزه مشاعره د کب پر ۲۳مه (دمارچ ۱۳مه ۲۰۲۱ کال) په باچا امام عمومي کتابتون بخشالي کې ترسره شوه.




### په ملي ارشيف کې د خطي نسخو او تاريخي سندونو نندارتون جوړ شو

د اطلاعاتو او فرهنګ وزارت سرپرست محمد طاهر زهير د کب پر ۲۳مه په ملي آرشيف کې د خطي نسخو او تاريخي سندونو د پرانيستلو په مراسمو کې له ټولو خلکو څخه وغوښتل؛ که تاريخي آرشيفي سندونه ورسره وي، ملي آرشيف ته دې وسپاري.



په دغو مراسمو کې چې د مشرانو جرګې د لومړي نايب محمد علم ايزديار، د افغانستان د علومو اکاډمۍ د غړي استاد حبيب الله رفيع، په کابل کې د ايران اسلامي جمهوريت د سفارت د فرهنګي برخې مسئول، يوشمېر فرهنګي شخصيتونو او د اطلاعاتو او فرهنګ وزارت د مسؤلينو په ګډون ترسره شول.

محمد طاهر زهير څرګنده کړه چې د دغه نندارتون په آثارو کې څه د پاسه ۴۰۰ خطي نسخې او تاريخي سندونه شته او د تاريخي آرشيفي آثارو د پېرودنې او ترلاسه کولو په اړه د اطلاعاتو او فرهنګ وزارت له بلنې وروسته، په ټوله کې يوه برخه يې په ۴٦ ميليونه افغانيو پېرودل شوې ده او بله برخه يې خلکو ملي آرشيف ته ورکړې ده.

همدارنګه مسؤلينو هغو کسانو ته چې ملي آرشيف ته يې تاريخي سندونه او خطي نسخې ورکړې دي، د آرشيفي سندونو د تشخيص او پېرودنې کمېسيون غړو او د ملي آرشيف مسئولينو او کارکوونکو ته د اطلاعاتو او فرهنګ وزارت ستاينليکونه او مننليکونه ورکړل. په دغو کسانو کې د علومو اکاډمي سلاکار استاد حبيب الله رفيع هم شامل و.

### پښتنه جوړه؛ په ولور کې د پيسو پر ځای کتابونه

د پښتونخوا په مردان سيمه کې يوې جوړې په داسې حال کې واده وکړ چې مېرمنې يې په خپل مهر کې د پيسو پر ځای له خپل خاوند څخه د کتابونو غوښتنه کړې او نوموړي يې دغه مطالبه پوره کړې ده.

واده شوې ناوې نايلې شمال ساپۍ د کب پر ۲۳مه له بي بي سي سره مرکه کې ويلي، کله يې د دې مخ ته نکاح نامه کښېښوووله او ورته يې وويل چې په ولور کې څه غواړې؟ نو دې ورته وويل چې د يو لک کلدارو کتابونه غواړې او نور هيڅ هم نه.

هغه زياتوي: "نن مې د واده شپه ده او زه وينم چې زما په خونه او په څنګ کې يوه بله خونه دواړه له کتابونو ډکې دي. دا هغه کتابونه دي چې له مېره مې د ولور په بدل کې غوښتي وو."

نايله شمال ساپۍ د چارسدې د تنګي کلي اوسېدونکې ده او خاوند يې ډاکټر سجاد ژوندون بيا د مردان د بايي خان کلي اوسېدونکی دی.

ډاکټر سجاد په پښتو ادب کې دکتورا کړې، خو مېرمن يې نايله شمال ساپۍ لاهم دکتورا کوي.

### د عامه کتابتونونو د جوړېدو سلمه کاليزه ونمانځله شوه

د اطلاعاتو او فرهنګ وزارت د عامه کتابتونونو رياست د کب پر ۲۴مه د عامه کتابتونونو د جوړېدو سلمه کاليزه ونمانځله.

په هغې غونډه کې چې په همدې مناسبت د اطلاعاتو او فرهنګ وزارت د سرپرست محمد طاهرزهير، د دې وزارت مسئولينو او فرهنګي شخصيتونو په ګډون جوړه شوه، په پيل کې د عامه کتابتونونو رئيس حميد الله شهراني د عامه کتابتونونو د لرغونتيا په اړه معلومات ورکړل.



هغه وويل، له هغه وروسته چې په ۱۲۹۸لمريز کال کې د هېواد خپلواکي ترلاسه شوه، شاه امان الله خان په ۱۲۹۹کال کې د خپل شخصي کتابتون له کتابونو په استفادې او له خپلو دوستانو څخه د کتابونو په راټولولو سره په لومړی ځل په ارګ کې ملي کتابتون جوړ کړ.

د يادونې وړ ده چې عامه کتابتونونه د هېواد په ګوټ ګوټ کې په ۹۸ نمايندګيو کې څه ناڅه ۵۰۰زره عنوانه کتابونه لري.

دغه راز د عامه کتابتون رياست د کتابونو په تالارونو کې سل زره ټوکه کتابونه شته او هره ورځ کم تر کمه ۲۰۰ تنه عامه کتابتون ته مراجعه کوي.

### تازه چاپ شوي آثار



**د ګوَري ژبې الفباء:** دا اثر د څېړندوی شريف الله سانبن په زيار په ۳۱ مخونو کې د افغانستان د علومو اکاډمي د اطلاعاتو او عامه اړيکو رياست له لوري چاپ شو.



**خوشحال او شخصيات:** د پښتونخوا د ملاکنډ پوهنتون د پښتو څانګې د مشر پروفيسور ډاکټر بادشاه روم (علی خېل درياب) اثر دی چې د افغانستان د علومو اکاډمۍ د اطلاعاتو او عامه اړيکو رياست له خوا په ٦۰۸ مخونو کې چاپ شو.



**نابغه خوشحال:** دا په کابل کې د نابغه خوشحال د نړيوال علمي- څېړنيز سيمينار د مقالو ټولګه ده چې د څېړنوال رفيع الله نيازي په زيار په ۳۰۳ مخونو کې د افغانستان د علومو اکاډمۍ د اطلاعاتو او عامه اړيکو رياست له لوري چاپ شوه.



**د پښتو او پشه‌يي ژبې ګرامري نږدېوالی:** د ارواښاد پوهنمل نورمحمد غمجن تميل ليکلی اثر دی چې په ۱۷۹ مخونو کې د افغانستان د علومو اکاډمۍ د اطلاعاتو او عامه اړيکو رياست له لوري چاپ شو.



**د لنډي نه تر لانډهي (راپورتاژ):** د ګوهر رحمان نويد اثر دی چې م. ر. شفق، سيد حسينه ګل تنها او افتاب ګلبڼ ورباندې تقريظونه ليکلي دي.